ایټالیا

# زما شخصي معلومات ولې EURODAC ته لیږدول شوې دي؟

س ډول

**د لنډمهاله خونديتوب ذینفعان (ګټه اخيستونکي)**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې د اروپايي اتحادیې (EU) د یوه غړي هېواد له خوا د لنډمهاله خوندیتوب د ګټهاخیستونکي په توګه ثبت شوي یاست.

په دغه بروشور کې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو له خوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زیات معلومات شته.

## ولې باید زه خپل د ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

تاسې خپل هېواد پرېښی او اوس په دې هېواد کې د لنډمهاله خوندیتوب ګټه اخیستونکی یاست.

د خوندیتوب دا ډول وضعیت لنډمهاله دی. د اروپايي ټولنې غړي دولتونه به په نوبتي ډول پرېکړه وکړي چې ایا دا خوندیتوب به ادامه ومومي که نه.

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به یو ځای، د Eurodac ډیټابیز ته واستول شي.

Eurodac د مشخصو کټګوریو لرونکې خلک د هغوی د ګوتو د نښو او انځور په بې ساري مشخصاتو سره نښلوي، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد اتباع نه دي.

دا ډیټابیز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کیږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي. د اروپايي ټولنې+ هېوادونه د همدې بروشور په پای کې راغلي دي.

**تاسې اوس په ایټالیا کې یاست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطریش، بلجیم، بلغاریه، کروشیا، قبرس، چیک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیا، لاټویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ایرلینډ جمهوریت، رومانیا، سلواکیا، سلونیا، هسپانیه، سویډن او

4 نور هېوادونه: ایسلېنډ، لیچتنستین، ناروې، سویټزرلنډ.

## په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندې معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس یا پخوا کارولي دي
- ستاسې د زوکړې نېټه
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې جنسیت
- ستاسې د هویت یا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولي دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر کارن پېژند (User ID) چې ستاسو د ګوتو نښې او عکس يې اخیستی، او هغه نېټې چې ستاسو معلومات اخیستل شوي او لېږل شوي دي
- هغه هېواد کوم چې تاسو پکې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې ده
- د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک نېټه.

لاندې معلومات به، که اړتیا وي، په Eurodac کې ثبت شي:

- هغه هېواد چې ستا د غوښتنلیک ارزونه کوي
- که تاسو ځای پر ځای شوی یې، نو د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد چې تاسو په کې ځای پر ځای شوی یاست
- که ستاسو غوښتنلیک رد شوی وي او تاسو د اروپايي ټولنې+ هېوادونو په سیمه کې د پاتې کېدو حق ونه لرئ
- که ستاسو غوښتنلیک د سرحدي پروسې له مخې ارزول شوی وي او رد شوی وي، یا ستاسو غوښتنلیک بېرته اخیستل شوی ګڼل شوی وي
- د هغو ویزو په اړه معلومات چې تاسو ته د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد له خوا صادر شوي وي
- د هغو وختونو په اړه معلومات چې تاسو د اروپايي ټولنې+ هېوادونو له سیمې څخه وتلی یاست
- په دې اړه معلومات چې ایا تاسو خپل هېواد ته د داوطلبانه ستنېدو وړاندیز منلی دی که نه.

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح يې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. تاسو کولای شئ د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړیکې جزئیات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتیا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

## ايا په EURODAC کې کوم نور معلومات زېرمه کېږي؟

که د اروپايي ټولنې کوم غړی دولت مکلف وي چې ستاسې د ګوتو نښې واخلي، يا دا وګڼي چې تاسې د خپل چلند له امله د لنډمهاله خونديتوب لپاره وړ نه ياست، نو هغوی بايد دا معلومات په Eurodac کې ثبت کړي.

دا حالت هغه وخت رامنځته کېدای شي که داسې معلومات موجود وي چې دا وښيي چې تاسو:

- يو ډېر جدي جرم ترسره کړی وي، لکه د جګړې جرم يا د بشريت پر ضد جرمونه.
- اروپا ته له راتګ مخکې په بل هېواد کې مو يو جدي جرم ترسره کړی وي
- يوه داسې کړنه مو ترسره کړې وي چې د ملګرو ملتونو له اصولو سره په ټکر کې وي.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



ستاسې معلومات به تر هغه وخته پورې خوندي پاتې شي تر څو چې ستاسې د لنډمهاله خونديتوب حالت معتبر وي. که ستاسې د خونديتوب حالت پای ته ورسېږي، نو ستاسې معلومات به ړنګ شي

دا بروشور يوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي. نه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازيتوب عمل کوي، په دې يادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره، 2025